**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۳** **نېټه: ۱۵ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورې د غړو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون د سترې محکمې د محترمې عالي شورا جلسه دایره شوه او د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټې د (۳) ګڼه تصویب په ترڅ کې د ځینې موضوعګانو په تړاو پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت له محترم عالي مقام سره شریک کړل شي. پر همدې بنسټ، د یادې جلسې موضوعګانې د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شریک کړل شول چې شپږمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

((د تېرې اداري پر مهال (د امن کور) په نوم یو ځای منځته راوړل شوی و چې د کورني تاوتریخوالي پر بنسټ او یا د نورو لاملو له امله له کوره تښتېدلې مېرمنې به یاد مرکز ته ورمعرفي کېدلې چې اوس بې سرنوشته پاتې دي. په دې باره کې څه ډول اجراأت وشي؟))

د افغانستان اسلامي امارت محترم عالي مقام د شپږمې فیصلې پر بنسټ په دې اړه لاندې هدایت وکړ: ((د دې بې سرنوشته مېرمنو موضوع دې چې په (امن کور) کې مېشتې دي، د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند ته وړاندې شي. دوی به د بې سرنوشته مېرمنو موضوع حل کړي.))

بناءً، د پورته یاد شوي مجلس د شپږمې موضوع په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته د معلوماتو په غرض واستول شوه.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.